د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 497**

(03 - 08 لړم 1404 هـ ش)

## د افغانستان او پاکستان ترمنځ وروستی جګړه؛ لاملونه او اغېزې یې



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د افغانستان او پاکستان ترمنځ وروستۍ جګړه؛ لاملونه او اغېزې يې.................................... 3
- د جګړې لاملونه........................................................................................... 4
- د جګړې اغيزې............................................................................................. 6
- د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سولې په موخه مذاکرات ................................................ 7
- پايله ......................................................................................................... 9
- وړانديزونه ................................................................................................. 9
- مأخذونه..................................................................................................... 10


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د افغانستان او پاکستان ترمنځ وروستۍ جګړه؛ لاملونه او اغېزې یې

### سریزه

له تاریخي پلوه، د افغانستان او پاکستان سیاسي اړیکې په دوه لویو پړاوونو ویشلی شو: لومړی، د پاکستان له رامنځته کېدو وروسته تر ۱۹۷۹ز. کال پورې. دویم، له ۱۹۷۹ز. کال څخه تراوسه پورې. په لومړي پړاو کې د ډیورنډ کرښې او دواړو غاړو ته د پرتو پښتنو د حقونو پر سر د دواړو هېوادونو سیاسي اړیکې ښې نه وې، البته په ۱۹۵۰ز.کال کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ټرانزیټي سوداګرۍ هوکړه (Afghan-Pakistan Transit Trade Agreement) لاسلیک شوه، چې د دواړو هېوادونو د سیاسي اړیکو په رغولو کې یې مهمه ونډه لرله.[1]

په دویم پړاو کې د دواړو هېوادونو سیاسي اړیکې ځینې وخت ښې شوي او ځینې وخت له ننګونو سره مخامخ شوې دي. له ۱۹۷۹ز. کال څخه تر ۱۹۹۲ز. کال پورې د دواړو هېوادونو اړیکې سړې وې او لامل یې په سیمه کې د دوو لویو قدرتونو، د امریکا متحده ایالاتو او شوروي اتحاد سیالي وه. پاکستان په دغه سیالۍ کې د امریکا متحده ایالاتو او د وخت افغان حکومت د شوروي اتحاد پلوی و. د افغانستان اسلامي دولت په لومړیو او د اسلامي امارت په لومړۍ دوره کې د دواړو هېوادونو اړیکې ښې وې.[2] د تېر شل کلن جمهوریت پرمهال د دواړو هېوادونو سیاسي اړیکې اکثره وخت له ستونزو سره مخامخ وې او لاملونه یې د دواړو هېوادونو پر یو او بل بې باوري، د پاکستان دوه مخی سیاست، پاکستان ته له افغانستان څخه د نشه یي توکو قاچاق[3]، د تېر شل کلن جمهوریت او هند نږدې اړیکې او داسې نور وو.

که په ځانګړې ډول د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان د سیاسي اړیکو مخینې ته وګورو، نو معلومېږي چې د اسلامي امارت په لومړۍ دوره کې دواړو هېوادونو نږدې اړیکې درلودې. د متحده عربي اماراتو او سعودي عربستان په ګډون، پاکستان د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت پېژندلی و،[4] خو د همدې پاکستان په همکارۍ د اسلامي امارت د لومړۍ دورې نظام ړنګ شو او جمهوریت حاکم شو، د جمهوریت په اوایلو کې هم د اسلامي امارت او پاکستان اړیکې سړې وې، خو له ۲۰۰۵ز. کال وروسته کله چې هند او متحده ایالاتو د ستراتیژیک پارټنرشېپ تړون لاسلیک کړ او پاکستان هم د ورته تړون غوښتنه وکړه او متحده ایالاتو دغه غوښتنه رد کړه، نو پاکستان دوه مخي سیاست ته مخه کړه او له اسلامي امارت سره یې اړیکې ټینګې کړې. کله چې په ۲۰۲۱ز. کال کې اسلامي امارت بیاځلي واکمن شو، نو داسې فکر کېده چې د دواړو هېوادونو اړیکې به ښې شي، خو په دې وروستیو کې د کډوالو او ټي ټي پي له امله دغه اړیکې خرابې شوې او د امنیتي دلایلو له امله دواړه هېوادونه سره مستقیمې جګړې ته ننوتل. په دې تحلیل کې د همدغې وروستۍ جګړې پر لاملونو، اغیزو، اوربند او راتلونکو اړیکو بحث کوو.


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د جګړې لاملونه

د افغانستان او پاکستان ترمنځ وروستۍ جګړه ځینې لاملونه لري چې دلته پرې لنډ بحث کوو.

۱- د پاکستان د طالبانو تحریک فکټور: د افغانستان او پاکستان ترمنځ د وروستۍ جګړې ستر لامل د پاکستان د طالبانو تحریک پر سر د دواړو هېوادونو ترمنځ د اختلاف شتون دی. پاکستان دعوه کوي چې د افغانستان اسلامي امارت د پاکستاني طالبانو تحریک څخه ملاتړ کوي او دوی ته په افغانستان کې پټنځایونه برابروي. د افغانستان اسلامي امارت بیا دعوه کوي چې پاکستان د افغانستان پر خاوره بریدونه کوي او د ډیورنډ پر فرضي کرښه امنیتي ستونزې جوړوي. له دې دوه اړخیزو تورونو داسې معلومیږي چې د وروستۍ جګړې ستر لامل د پاکستاني طالبانو اسلامي تحریک یا TTP دی، ځکه کله چې پاکستان د افغانستان پر خاوره بریدونه کړي، نو پاکستان وايي چې دغه بریدونه یې د TTP پر مرکزونو کړي. د پاکستاني طالبانو تحریک په ۲۰۰۷ز. کال په پاکستان کې رامنځته شو، په ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ز. کلونو کې د داخلي ګډوډیو او خپلمنځي ستونزو له امله له ننګونو سره مخامخ شو، خو په ۲۰۱۸ز. کال کې یې بیا سر راپورته کړ او د پاکستان پر نظامي ځایونو یې بریدونه پیل کړل. د ۲۰۲۳ز. کال د پاکستان د کورنیو چارو وزارت د راپور پر بنسټ، په پاکستان کې د طالبانو تحریک د غړو شمېر له اوو زرو (۷۰۰۰) څخه تر لس زرو (۱۰۰۰۰) پورې رسېدلی دی.[5]

پاکستاني څېړونکي په دې اند دي چې په افغانستان کې د اسلامي امارت بریا د پاکستاني طالبانو تحریک په هڅونه او تحریک کې مهم رول اداء کړی او له دوی سره هم هیله پیدا شوې چې په پاکستان کې ورته اسلامي نظام رامنځته کړي،[6] له همدې امله یې بریدونه زیات کړي دي. د رسمي شمېرو له مخې له ۲۰۲۱ز. کال څخه د ۲۰۲۳ز. کال تر اګست میاشتې پورې د پاکستاني طالبانو تحریک په بریدونو کې ٦٠ سلنه زیاتوالی راغلی، چې له امله یې ۲۳۰۰ پاکستاني نظامیان او ملکیان وژل شوي دي،[7] یوازې په خیبرپختونخواه کې ۳۰۰ بریدونه شوي، چې د اکثرو مسؤولیت د پاکستاني طالبانو تحریک پر غاړه اخیستی دی.[8]همدارنګه د جنوبي اسیا د ترهګرۍ بنسټ* وايي: پر ۲۰۲۳ز. کال په پاکستان کې ۴۱۸ بریدونه شوي، چې دا شمېره په ۲۰۲۲ز. کال کې ٣٦٥ وه.[9] الجزیرې بیا په ۲۰۲۳ز. کال کې په ټول پاکستان کې د بریدونو شمېر ٦٥٠ ښودلی دی.[10]

له دې ډول بریدونو وروسته پاکستان له اسلامي امارت څخه غوښتنه وکړه چې په افغانستان کې د پاکستاني طالبانو تحریک یا TTP په مقابل کې په افغانستان کې پراخ عملیات وکړي[11] او که اسلامي امارت دا کار ونه کړي دوی اړ دي چې د افغانستان په خاوره کې عملیات وکړي.[12]

* South Asian Terrorism Portal



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د افغانستان اسلامي امارت د پاکستاني لوري دغه تېول تورونه ردوي، د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزير امير خان متقي دا د اسلامي امارت خلاف تبليغات گڼي او وايي چې په افغانستان کې هېڅ داسې ډلې نشته چې هغه د سيمې هېوادونو امنيت ته گواښ پېښ کړي.[13] د افغانستان اسلامي امارت وياند ذبيح الله مجاهد د پاکستان د تورونو په رد کې وايي: «پاکستان د دې پرځای چې خپل امنيت ټينگ کړي يو ځل بيا يې افغانستان تورن کړ. اسلامي امارت تاکيد کوي چې دوی د دې ډول پېښو ملاتړ نه کوي، بلکې غندي يې، خو دا د اسلامي امارت مسؤليت نه دی چې په پاکستان کې د بريدونو مخنيوی وکړي، بلکې پاکستان بايد خپل امنيت پخپله ټينگ کړي.»[14] سره له دې چې اسلامي امارت په افغانستان کې د پاکستان د طالبانو تحريک شتون رد کړی او په وار وار يې ويلي دي چې د افغانستان خاوره به د چا پر ضد نه کارېږي، خو پاکستان پر دې سربېره بيا هم د خپلو جېټ الوتکو پرمټ د ۲۰۲۲ز. کال په اپريل مياشت کې پر خوست او کونړ بمباری وکړې، چې له امله يې ۴۷ کسان شهيدان او ۲۲ ټپيان شول چې اکثريت يې کوچنيان او ښځې وې.[15] همدارنگه د ۲۰۲۴ز. کال د مارچ مياشتې پر ۱۸مه نېټه هم پاکستاني جېټ الوتکو په پکتيکا او خوست ولايتونو کې بمباری وکړې چې له امله يې پنځه ښځې او درې کوچنيان شهيدان شول.[16] د دې ترڅنگ د ۲۰۲۵ز. کال د جنوری پر لسمه نېټه هم پاکستاني جېټ الوتکو د کونړ پر سرکاڼو ولسوالۍ بمباری وکړې. پاکستاني حکومت دعوه کړې چې دوی دغه بريدونه د پاکستاني طالبانو تحريک پر مرکزونو کړي دي.[17] پاکستان پر دې بريدونو هم بسنه ونکړه او د روان ۲۰۲۵ز. کال د اکتوبر مياشتې پر ۹مه نېټه يې پر کابل بريد وکړ، چې په مقابل کې د افغانستان اسلامي امارت ته د بين المللي حقوقو په رڼا کې له ځان څخه د دفاع په موخه د ډيورنډ پر ټوله فرضي کرښه پر پاکستاني پوستو انتقامي بريدونه وکړل او د ذبيح الله مجاهد پر وينا په دې بريدونو کې يې ۵۸ پاکستاني پوځيان ووژل او نږدې ۲۹ يې ټپيان کړل. له دې معلوميږي چې د د جگړې اصلي لامل د پاکستان د طالبانو تحريک پر د دواړو لوريو ترمنځ اختلاف دی.

۲- د هند فکتور: پاکستان پر کابل په داسې مهال کې بريد وکړ چې د افغانستان د بهرنيو چارو وزير اميرخان متقي تازه هند ته تللی و. د پاکستان د ستراتيژيک عمق پاليسۍ يوه برخه دا ده چې په افغانستان کې بايد د هند د نفوذ مخه ونيول شي. هند ته د اميرخان متقي سفر د اسلام آباد غصه راپارولې ده او دا سفر داسې مهال کېږي چې له څو کلونو وروسته د هند نوي‌ډېلي ته د يو افغان وزير لومړنی سفر و.

د طالبانو پلاوي ته د هند چارواکو له لوري يو بې‌سارې تود هرکلی وويل شو، متقي د سفر پرمهال ديوبند دارالعلوم ته هم سفر وکړ، چې له ۱۹۵۰مې لسيزې راهيسې هېڅ افغان چارواکي دغه درالعلوم ته رسمي سفر نه دی کړی. سره له دې چې په هند کې واکمن بي جي پي گوند يو ملتپاله گوند دی، خو د دې سربېره بيا يې هم د پاکستان پر ضد او پارونې په موخه د يو داسې حکومت بهرنيو چارو وزير ته ښه راغلاست ووايه چې د اسلامي حکومت عنوان لري او بيا ديوبند درالعلوم ته د تگ اجازه هم ورکړه.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

هند سره له دې چې له افغانستان سره ګډه پوله نه لري، خو هندي روايت دا دی چې دوی له افغانستان سره د ګلګت-بلتستان له لارې ګډه پوله لري او دا سيمه د خپل ځان ګڼي او د همدغې سيمې د خوندي ساتلو په موخه په افغانستان کې د هند د نفوذ مخنيوی د پاکستان د بهرنۍ پاليسۍ مهمه برخه ده. هند ته د متقي له سفر وروسته د دې قضيې په اړه د اندېښنې ترڅنګ غصه هم موجوده ده. سره له دې چې له اسلامي امارت سره د هند اړيکې سمبوليک او نمايشي بڼه لري، خو له دې لارې بيا هم هند غواړي چې له متحده ايالاتو له وتلو وروسته په افغانستان کې خپل ځای وساتي او په دغه هيواد کې د چين او پاکستان د نفوذ مقابله وکړي، نو د هند او اسلامي امارت د اړيکو نږديوالی او دغه هېواد ته د متقي سفر هم يو لامل کېدای شي چې پاکستان په کابل بريد کړی وي تر څو اسلامي امارت تر فشار لاندې ونيسي او راتلونکې کې د هند سره د اړيکو له نږديوالي څخه ځان وژغوري.

۳- د متحده ايالاتو فکټور: د دې جګړې دويم لامل د متحده ايالاتو فکټور هم کېدای شي. متحده ايالاتو په دې وروستيو کې له اسلامي امارت څخه د بګرام اډې غوښتنه وکړه چې د اسلامي امارت له لوري رد شوه او د ټرمپ خبره دا وه چې که طالبان بګرام اډه رانکړي، نو ډېر بد څه به پېښ شي، همدارنګه د پاکستان د لومړي وزير او د پوځ مشر عاصم منير څو پرله پسې ليدنې له ټرمپ سره او د اړيکو نږديوالی هم دې اړخ ته اشاره کوي چې پر کابل د پاکستان په بريد کې د متحده ايالاتو فکټور هم له نظره نشي غورځېدی، ځکه د پاکستان له ايجاد څخه تراوسه پورې دا لومړی ځل دی چې دغه هېواد کابل په نښه کوي، نو يو لامل دا هم کېدای شي چې متحده ايالات غواړي د پاکستان له لارې پر اسلامي امارت فشار راوړي تر څو د دوی ځينې غوښتنې او په ځانګړې ډول د بګرام اډې د ورکړې غوښتنه پرې ومني او اسلامي امارت په دې وډار کړي چې که د دوی غوښتنې ونه منل شي، نو افغانستان به يو ځل بيا د ناامنۍ مرکز شي.

## د جګړې اغېزې

**۱-** د دې جګړې له امله د افغانستان او پاکستان سياسي اړيکې خرابې شوې او دغه خرابې اړيکې د دې لامل کېږي چې پاکستان په بېلابېلو نړيوالو سټېجونو اسلامي امارت د ترهګرۍ پر ملاتړ تورن کړي او وايي چې د افغانستان خاوره د پاکستان پر ضد کارېږي او د دې امکان هم شته چې د نورو هېوادونو پر ضد هم وکارېږي. همدارنګه په سيمه ييزه کچه د افغانستان په اړه په سيمه ييزو غونډو کې د ټولشموله حکومت او بشر حقوقو قضيه هم مطرح کوي چې دا د اسلامي امارت د رسميت پېژندنې پر قضيه منفي اغېزه کوي.

۲- د دې ترڅنګ د دواړو هېوادونو ترمنځ خرابې اړيکې د دې معنی نه لري چې يوازې پاکستان سره د فشار وسايل دي او هغه به د اړيکو د خرابېدو له امله کاروي، بلکې اسلامي امارت سره هم د فشار وسايل شته او د دې وروستۍ جګړې پرمهال يې له هغې څخه کار واخيسته. ذبيح الله مجاهد وويل: پاکستان د داعش پټنځای دی، په بېلابېلو ښارونو کې هغوی ته ټرنګ ورکول کېږي او په دې وروستيو کې چې په روسيه کې

کوم برید وشو، په ایران کې کوم بریدونه وشول او د سیمې په نورو هېوادونو کې کوم بریدونه کېدل او د افغانستان په داخل کې چې کوم بریدونه ترسره شول، دا ټول په پاکستان کې د داعش له مرکزونو تنظیمیده.
د دې ترڅنګ دا چې په افغانستان کې د نشه يي توکو کر بند شوی، نو پاکستان د نشه يي توکو کر ته مخه کړې ده او همدغه نشه يي توکي د اروپا او امریکا بازارونو ته قاچاق کېږي. همدارنګه دریمه د فشار وسیله هغه مرکزي اسیا ته د پاکستان د لاسرسي په لاره کې د خنډونو جوړول دي. لنډه دا چې کله اړیکې خرابې شي، نو دواړه لوري د فشار اعظمي وسایل کاروي او دا دې لامل کېږي چې د دواړو هېوادونو اړیکې لا خرابې کړي او منفي اغېزې رامنځته کړي.
۳- همدارنګه دغې جګړې د دواړو هېوادونو ترمنځ په اقتصادي اړیکو هم منفي اغېزه کړې ده. پاکستان اعلان وکړ چې په کراچۍ بندر کې د افغان سوداګرو پر سوداګرۍ بندیز لګوي، د دې ترڅنګ د د دواړو هېوادونو ترمنځ دروازې وتړل شوې چې له یوې خوا د سوداګرۍ کچه ورسره راټیټه شوه او له بلې خوا پر افغان اجناسو بندیز، افغان سوداګرو کانتینرونه نیول او د تعرفې لوړول ورسره رامنځته شول چې له امله يې د دواړو هېوادونو پر اقتصاد منفي اغېزه وکړه.
۴- د دې جګړې بله ستره اغېزه په پاکستان کې پر افغان کډوالو د فشار زیاتېدل او هغوی په اجباري ډول شړل دي. له جګړې وروسته د پاکستان مرکزي حکومت کابینې د شهباز شریف په مشرۍ غونډه وکړه او په هغې کې يې په څرګند ډول وویلې چې پاکستان کې یوازې هغه افغانان اوسېدلی شي چې ویزه ولري، نور ټول افغان کډوال باید له دې خاورې وویستل شي، له دې معلومېږي چې د جګړې بله مهمه اغېزه په پاکستان کې میشت افغان کډوالو اجباري اخراج دی.

## د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سولې په موخه مذاکرات

د دواړو هېوادونو ترمنځ د سولې خبرې اترې د قطر او ترکیې په منځګړیتوب په دوحه کې پیل شوې، چې په لومړي سر کې یوازې پر اوربند توافق وشو او د نورو خبرو اترو لپاره ترکیه وټاکل شوه تر څو د روان ۲۰۲۵ز. کال د اکتوبر پر ۲۵مه نېټه هلته خبرې وکړي. همداسې وشول د اکتوبر پر ۲۵مه نېټه د دواړو لوریو ترمنځ خبرې اترې پیل شوې، پاکستان غوښتنه دا وه چې د افغانستان خاوره باید د پاکستان پر ضد ونه کارېږي او اسلامي امارت د ټي ټي پي مخنیوی وکړي په مقابل کې د افغانستان غوښتنه دا وه چې د پاکستان خاوره هم باید د افغانستان پر ضد ونه کارېږي او پاکستان باید د داعش مخنیوی وکړي او امریکايي ډرون ته هم باید اجازه ورنکړي چې پر افغانستان برید وکړي. د طلوع نیوز د راپور پر بنسټ پاکستان دا خبره نه دې منلې چې امریکايي ډرون ته به اجازه نه ورکوي چې پر افغانستان بریدونه وکړي، ځکه هغوی وايي چې دوی له امریکا متحده ایالاتو سره تړون لري چې د پاکستان له خاورې به د ډرون عملیات کوي او دوی دا تړون ماتولی نشي.

سره له دې چې د دې مذاکراتو نهايي پایله لا څرګنده نه ده، خو ویلای شو چې افغانستان له پاکستان دولت سره په مذاکراتو کې په لاندې دلایلو برلاسی دی:

۱- پاکستان له سخت کورني سیاسي، اقتصادي او امنیتي بحران سره مخامخ دی. مرکزي حکومت کې د مسلم لیګ (ن) او پیپلز پارټي ترمنځ اختلاف په زیاتېدو دی، چې کېدای شي اوسنی حکومت سقوط شي، په مقابل کې د عمران خان ګوند محبوبیت په زیاتېدو دی، چې د چارسدې جلسه یې ښه بېلګه ده. په لاهور کې د تحریک لبیک پر کارکوونکو بریدونه او د هغوی سلګونو کارکونکو ټپي کول او وژنه د پنجاب حکومت له ننګونو سره مخامخ کړی دی او دا چې مرکزي حکومت او پنجاب حکومت د یوې ډلې سره دی، نو دا خپله په مرکزي حکومت هم فشار دی. دې ترڅنګ په امنیتي اړخ کې د ټي ټي پي او بلوڅ لبرېشن عملیاتو هم له پاکستان پوځ او حکومت ځخه لاره ورکه کړې ده. همدارنګه متحده ایالاتو ته د پوځ او ملکي حکومت نږدیوالی هم په سیمه ییزه کچه د ایران، روسیې، چین او هند اندېښنې راپورته کړې دي، نو په داسې بحراني حالت کې یو ځل بیا له افغانستان سره جګړې ته کېوتل دا د پاکستان په ګټه نه ده او په هیڅ ډول دوی د دې جګړې طرفدار نه دي او دا په مذکراتو کې د افغانستان لپاره یو ښه فرصت دی تر څو خپلې خبرې پرې ومني.

۲- که مذاکرت ناکامیږي، نو پاکستان به تل له افغان لوري ځخه په اندېښنه کې کوي او د برید ګواښ به تل ژوندی وي او د داخلي نورو جبهو ترڅنګ به یوه بله ستره جبهه د دوی خلاف خلاصه شي چې دا کار د پاکستان په ګټه نه دی.

۳- افغان لوري په مذاکراتو کې د دا ع ش موضوع رابرسېره کړې ده او په پاکستان کې د دې ډلې د پټنځایونو په اړه یې کره اسناد له ځان سره وړي دي، دا چې په نړیواله سطحه پاکستان د ترهګرۍ د ملاتړ دولت ( State Sponsored Terrorism) په نوم بدنام دی، نو که افغان لوري د دا ع ش موضوع ګرمه وساتي، نو دا به په نړیواله کچه د پاکستان لپاره ستره بدنامي وي او حتی د مذاکراتو کوربه هیوادونه به د پاکستان له لوري د ټي ټي پي قضیه بابیزه وګڼي تر څو چې د دا ع ش ستره موضوع چې همدا ترکیه ترې خپل ګاونډ کې متضرره ده، حل نشي.

۴- که مذاکرات بریالي نشي او پاکستان د افغانستان غوښتنو په مقابل کې تعامل ونکړي، نو دغه هېواد به په افغانستان کې شته خپل نفوذ په بشپړ ډول له لاسه ورکړي او دا کار له امنیتي او اقتصادي پلوه د پاکستان په ګټه نه دی.

۵- بله موضوع دا ده چې پاکستان به خپل نهايي هځه کوي چې مذاکراتو کې تعامل وکړي، ځکه که دا مذاکرات ناکامیږي، نو پاکستان په لوی لاس افغانستان د هند غېږې ته غورځوي چې دا کار د پاکستان د ستراتیژیک عمق پالیسۍ (Strategic Depth Policy) خلاف دی.

لنډه دا چې افغانستان باید په مذاکراتو که تر فشار لاندې رانشي، خپلې غوښتنې په جدي او نه تېرېدونکي ډول مطرح کړي البته په ځینو برخو کې تعامل کېدای شي، د دا ع ش موضوع جدي ونیسي او قوي نړیوالو تضمینونه ترلاسه کړي.

## پایله

د افغانستان او پاکستان اړیکي د تاریخ په اوږدو کې له لوړو او ژورو څخه ډکې دي. پاکستان له اسلامي امارت سره په لومړنۍ دوره کې نږدې اړیکې درلودې او حکومت یې په رسمیت پېژندلی و او د اسلامي امارت بیاځلي واکمنۍ وروسته هم داسې فکر کېده چې د دواړو هېوادونو ترمنځ به اړیکې نږدې او ښې وي، خو د ټي ټي پي، کډوالو او ډیورنډ فرضي کرښې پر سر د دواړو هېوادونو اړیکې خرابې شوې.
د افغانستان او پاکستان د وروستۍ جګړې ستر لامل د ټي ټي پي پر سر د دواړو هېوادونو اختلاف دی. پاکستان پر افغانستان تور پورې کوي چې دوی ټي ټي پي ته پټنځای ورکړی او ملاتړ یې کوي، سره له دې چې اسلامي امارت دغه تورونه رد کړي دي، خو دوی بیا هم په همدې بهانه پر خوست، پکتیکا، ننګرهار، کونړ او کابل بریدونه کړي دي چې پر کابل وروستی برید د دې لامل شو چې اسلامي امارت انتقامي عملیات وکړي او د ډیورنډ پر فرضي کرښه پر پرتو پاکستاني پوستو بریدونه وکړي چې له امله یې د دواړو هېوادونو اړیکې نورې هم خرابې شوې. همدارنګه په دې جګړې کې د متحده ایالاتو او هند فکټور هم له پامه غورځېده نشي، په دې معنی چې د اسلامي امارت او هند د اړیکو نږدېوالي باندې پاکستان خوښ نه دی او له همدې امله یې د فشار وسایل کاروي او دې د امکان هم شته چې متحده ایالاتو د پاکستان له لارې پر اسلامي امارت فشار راوړل غواړي تر څو د بګرام هوایي اډه ورته وسپاري او یا هم د دوی نورې غوښتنې ومنې.

## وړاندیزونه

۱- پاکستان دې د افغانستان سیاسي حاکمیت ته احترام ولري او د یو خپلواک دولت په توګه ورته وګوري.
کله چې اسلامي امارت ډاډه شي چې پاکستان له دوی سره د یو خپلواک او حاکم دولت په توګه چلند کوي، نو اسلامي امارت خپله دې ته تیاریږي چې دوی هم د پاکستان سیاسي حاکمیت ته احترام ولري او د هغوی غوښتنو او اندېښنو ته ځواب ووایي.
۲-- اسلامي امارت دې هڅه وکړي چې په خپلو اړیکو کې توازن وساتي په ځانګړي ډول د پاکستان او هند ترمنځ تر څو افغانستان یو ځل بیا د دغو هېوادونو د سیالۍ ډګر نشي.
۳- چین هغه هېواد دی چې په دې وروستیو کې د اسلامي امارت سره نږدې اړیکې لري او له بلې خوا د پاکستان هم پخوانی ستراتیژیک ملګری دی. دغه ګډ ملګري څخه کېدلای شي چې د اړیکو د پیاوړتیا او ښه کېدو په موخه د منځګړي په توګه ګټه واخیستل شي.


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

۴- له نورو هېوادونو سره د جګړې پرمهال هر دولت ملي ملاتړ ته اړتیا لري، نو اسلامي امارت دې هڅه وکړي چې د ملي ملاتړ د زیاتوالي په موخه په داخل د هېواد کې د اسلامي شریعت په چوکاټ کې ځینو اصلاحاتو ته مخه کړي.

۵- جګړه د هیڅ هېواد په خیر نه ده، نو افغانستان او پاکستان دې دواړه هڅه وکړي چې د تفاهم له لارې دغه ستونزه حل کړي او جګړې ته د پای ټکی کېږدي.

## مأخذونه

[1] Syed Muhammad Abbas, "Afghanistan-Pakistan in a security Puzzle (Past, Present and Future)", Vienna International Institute for Middle East Studies, Nov 20, 2023, P. 11, Access link: https://viimes.org/wp-content/uploads/2024/02/Final-Paper-on-Afghanistan-Pakistan-Security-Puzzle-16.01.2024.pdf

[2] L.A. Times Archives. "2 Slain in Attack on Pakistani Embassy", Los Angeles Times, Sep 7, 1995, Access link: https://www.latimes.com/archives/la-xpm-1995-09-07-mn-43249-story.html

[3] Shehryar Fazli. "The Impact of Afghanistan's Drug Trade on its Neighbors", The Global Initiative against Transnational Organized Crime, November 2023, P. 7, Access link: https://globalinitiative.net/wp-content/uploads/2023/11/SOCACE-RP25-AfganDrugTradeImpact-20Nov23.pdf

[4] Vito Morisco, "From Rebel Governance to Institutionalization? Prospects for the Taliban and Afghanistan", Austrian Institute for International Affairs, July 2023, P. 21, Access link: https://www.ssoar.info/ssoar/bitstream/handle/document/90184/ssoar-2023-morisco-From_Rebel_Governance_to_Institutionalization.pdf?sequence=1&isAllowed=y&lnkname=ssoar-2023-morisco-From_Rebel_Governance_to_Institutionalization.pdf and Amanullah Zarawar, Naveedullah Alokozay and Hamad Shoukat, "Pakistan and the 2.0 Taliban (Islamic Emirate of Afghanistan) Regime New Scene", Cognizance Journal of Multidisciplinary Studies, Vol.4, Issue.8, August 2024, P. 252, Access link: https://www.researchgate.net/profile/Amanullah-Zarawar/publication/383816752_Media_Freedom_and_Censorship_A_Comparative_Study_of_Media_Freedom_under_First_and_Second_20_Taliban_Regime/links/66e84c680463442fa851d75d/Media-Freedom-and-Censorship-A-Comparative-Study-of-Media-Freedom-under-First-and-Second-20-Taliban-Regime.pdf

[5] Ido Gadi Raz, "Against all Expectations: Afghanistan-Pakistan Relations after the American Withdrawal", Op. Cit. P. 14-15.

[6] Muhammad Bilal Iftikhar Khan, Syed Waqas Haider Bukhari and Marriyam Siddique, "Pakistan IEA Relations, A Game Theory Perspective", journal of Social & Organizational Matters, Vol 1 No 1, 2022, P. 31, Access link: https://www.researchgate.net/profile/Syed-Waqas-Bukhari/publication/373713256_Pakistan_IEA_Relations_A_Game_Theory_Perspective/links/66a100ab8be3067b4b154ce6/Pakistan-IEA-Relations-A-Game-Theory-Perspective.pdf

[7] Syed Muhammad Abbas, "Afghanistan-Pakistan in a security Puzzle (Past, Present and Future)", Vienna International Institute for Middle East Studies, Nov 20, 2023, P. 19, Access link: https://viimes.org/wp-content/uploads/2024/02/Final-Paper-on-Afghanistan-Pakistan-Security-Puzzle-16.01.2024.pdf

[8] Abid Hussain, "Taliban's ties with Pakistan fraying amid mounting security concerns", ALJAZEERA, 17 Aug 2023, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2023/8/17/talibans-ties-with-pakistan-fraying-amid-mounting-security-concerns

[9] Sneha Swaminathan, Explained | Why is Pakistan asking 1.7 million Afghan nationals to leave its territory?, WIONEWS, 2 NOV, 2023, Access link: https://www.wionews.com/south-asia/explained-why-is-pakistan-asking-17-million-afghan-nationals-to-leave-its-territory-654025

[10] Abid Hussain, "Tensions high after Pakistan launches cross-border attacks into Afghanistan", Op. Cit.

11 Arsalan Bilal, Pakistan and the Afghan Taliban: Friends Becoming Foes, THE DIPLOMAT, April 28, 2023, Access link: https://thediplomat.com/2023/04/pakistan-and-the-afghan-taliban-friends-becoming-foes/

[12] Abid Hussain, Taliban's ties with Pakistan fraying amid mounting security concerns, Op. Cit.

[13] Vito Morisco, "From Rebel Governance to Institutionalization? Prospects for the Taliban and Afghanistan", Op. Cit. P. 25.

[14] Ibid.

[15] Aljazeera," At least 47 dead in Afghanistan after Pakistan attacks: Officials", 17 April, 2022, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2022/4/17/afghanistan-death-toll-in-pakistan-strikes-rises-to-47-official

[16] Abid Hussain, "Tensions high after Pakistan launches cross-border attacks into Afghanistan", Op. Cit.

[17] Abid Hussain, "Tensions high after Pakistan launches cross-border attacks into Afghanistan", Op. Cit.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: info@csrsaf.org

وب سایت: www.csrsaf.org

+93780618000

شمېره: +93780618000